PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

کله چې شپیلی پوه کړی شي نو بیا به خپل منځي تولې اړیکې غوڅې او له یو بل نه به پوښتنه هم نه کوي. په هغه ورځ چې د هر چا تلی درنې شوی نو همغوی بریمن دي. او د چا چې تلی سپکې شوی نو ځانونه یې تاواني، او تل به په جهنم کې پاتې وي، مخونه به یې په اور کې سوځي او تل به چینگ داړی وي. ورته به وویل شي چې آیا پر تاسو زما آیتونه نه وو لوستل شوي چې تاسو به درواغ گڼل.
(سورة المؤمنون: ۱۰۱ - ۱۰۵)

درس حدیث

له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:
په جهنم کې یوه داسې کنده ده چې له هغې نه پخپله جهنم هره ورځ څلور سوه ځله پناه غواړي دا کنده د محمد صلی الله علیه وسلم د اُمت ریاکارو خلکو لپاره تیار کړی شوی ده. (مشکواة المصابیح)

شهادت دویم کال، ۹۰ مه گڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د مرغومی ۱۵ مه د۱۴۳۲ هـ ق د محرم الحرام ۲۹ مه د۲۰۱۱ م د جنوری ۵ مه

آیساف سال ۲۰۱۰ را خونین‌ترین سال برای نیروهای خارجی خواند

کابل، رسانه ها:
سخنگوی قوای آیساف در افغانستان در ارتباط به این که سال ۲۰۱۰ طی ده سال اخیر خونبار ترین سال در افغانستان بود گفت، پیش از بهبود وضعیت باید خشونت ها افزایش می یافت.
برید جنرال جوزیف بلاتز گفت، با آن که زمستان است و با سرد شدن هوا آتش جنگ فرو می نشنید، اما ۱۴۰ هزار سرباز ناتو از ادامه جنگ علیه طالبان دست بردار نخواهند شد.
جنرال بلاتز در کابل به خبرنگاران گفت، افزایش در تلفات سربازان ناتو، ثبوت ناکامی استراتیژی آنها نیست.
باراک اوباما رییس جمهور ایالات متحده، امریکا در ماه دسمبر سال ۲۰۰۹ استراتیژی را برای افغانستان اعلان کرد و بر اساس آن ۳۰هزار سرباز دیگر به افغانستان فرستاد. ماه گذشته این استراتیژی یک بار دیگر بررسی گردید.
سخنگوی آیساف در افغانستان در اشاره به

بقیه در صفحه ۴

واکنش کابل به پیشنهاد ایجاد پایگاه دائمی امریکا در افغانستان

بی بی سی:
وحید عمر می گوید افغانستان به حمایت درازمدت امریکا نیاز دارد اما بحث ایجاد پایگاه دائمی هنوز مطرح نبوده است.
مقامهای افغان می گویند با آنکه افغانستان به حمایت درازمدت نظامی امریکا نیاز دارد اما تا کنون بحث ایجاد پایگاه های دائمی امریکا در افغانستان مطرح نبوده است.
وحید عمر سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان، این سخنان را در واکنش به اظهارات یک سناتور امریکایی مبنی بر نیاز امریکا به پایگاه دائمی در افغانستان اظهار داشت.
لیندسی گراهام از سناتورهای ارشد جمهوریخواه، در مصاحبه با تلویزیون ان بی سی امریکا گفته بود که از دولت اوباما خواسته است تا پایگاه های دائمی در افغانستان ایجاد کند.
آقای گراهام در مصاحبه با ان بی سی گفته است:
ایجاد پایگاه دائمی در افغانستان برای منطقه نیز مفید خواهد بود، همانگونه که امریکا پایگاه هایی در دیگر مناطق جهان دارد، ایجاد چند پایگاه در افغانستان می تواند ارتش این کشور را در مقابل طالبان بیمه کند، همچنین می تواند پیامی برای پاکستان باشد مبنی بر اینکه طالبان دیگر نخواهند توانست به افغانستان باز گردند و این پیام رفتار

بقیه در صفحه ۴

امریکایي قوماندان: د طالبانو په زړه کې له قومي مشرانو سره روغه وشوه

هلمند، تاند:
په افغانستان کې د امریکا د سمندري پلیو ځواکونو قوماندان د دوشنبې په ورځ وویل چې په هلمند کې د طالبانو ترکنټرول لاندې تر ټولو د لوی قوم مشرانو او سپین ږیرو ژمنه وکړه چې په خپله سیمه کې به د طالبانو د حملو مخه نیسي او بهرني طالبان به یومخ باسي.
د افغانستان په جنوب لوېدیځ کې د امریکایي سمندري پلیو ځواکونو دغه تر ټولو جگپوړي چارواکي ډگرجنرال ریچارد میلز دا خرگندونې وروسته له دې وکړې چې د هلمند د والي ویاند وویل، والي گلاب منگل د سنگین د

پاتې ٤ مخ

پیام اتحادیهٔ جوانان حزب اسلامی افغانستان ولایت بدخشان

صفحه سوم

اتحادیهٔ جوانان حزب اسلامی ولایت بدخشان رسماً به فعالیت آغاز نمود

عدهٔ از اتحادیهٔ جوانان حزب اسلامی ولایت بدخشان با محترم الحاج عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان دیده می شوند

په ۲۰۱۰ کې تر لس زره زیات افغانان وژل شوي

فرانس پریس، تاند:
فرانس پریس خبري اژانس د رسمي شمېرنو او د یوې خپلواکې ویباڼې د ارقامو له مخې په ۲۰۱۰ کال کې په افغانستان کې د وژل شویو کسانو شمېر تر لس زرو زیات وباله او ویې ویل چې د دغو کسانو ترپنځمې برخې زیات ملکیان دي.
د افغانستان د کورنیو چارو وزارت ویندوی زمري بشري په ۲۰۱۰ کال کې د ملکیانو، پولیسواو سخت دریځو د تلفاتو په باب نوې شمېره وړاندې کړه.ده وویل چې په دغه کال (۲۰۱۰) کې ۸۵۶۰ تنه وژل شوي دي.
پر دې سربېره د افغانستان دفاع وزارت وویل چې په ۲۰۱۰ کال کې د ملي اردو ۸۱۰ سرتېري وژل شوي. دا په داسې حال کې ده چې د کړولتي تکی اورگک په نوم خپلواکه ویبپاڼه په ۲۰۱۰ کال کې د بهرنیو ځواکونو تلفات تولټال ۷۱۱ تنه ښيي.او له دې سره په ۲۰۱۰ کال کې د ټولو وژل شویو کسانو شمېر ۱۰۰۸۱ تنو ته رسېږي.
د کورنیو چارو وزارت ویندوی زمري بشري

پاتې ٤ مخ

اوس امریکا د نوېو استخباراتي بې پیلوټه الوتکو په وسیله د مخالفینو څارنه کوي

امریکا، رسنۍ:
د امریکا پوځ په پام کې لري، چې په افغانستان کې استخباراتي نوې بې پیلوټه الوتکې ځای پر ځای کړي چې د پوځي کارپوهانو په وینا دا به امریکایي ځواکونو ته د دې امکان برابر کړي چې په دې هېواد کې پر عملیاتو پراخه څارنه وکړي چې پخوا یې هیڅکله هم سابقه نه درلوده.
واشنگټن پوسټ ورځپاڼې د یکشنبې د ورځې په گڼه کې په دې اړه خبر ورکړې او وایې چې دغه هوایي څارونکي سیستم چې گورگن ستېر نومېږي، کولای شي له یوه ښېر ښار څخه فزیکي متحرک ویډیوي تصویرونه په ژوندۍ بڼه ولیږدوي.
د خبر له مخې دغه سیستم داسې عیار شوی

پاتې ٤ مخ

محمد عمر داودزی او ډاکټر سپنتا هم ښایي په نورو دندو وگومارل شي

تاند وېبپاڼه:
ډېرو باخبرو سرچینو له تاند سره په خبرو کې تایید کړې ده چې د ولسمشر کرزي د دفتر ریس عمر داودزی او د ملي امنیت شورا رییس داکتر سپنتا له دندو لیرې کېدونکي دي او ښایي پر نورو چارو وگومارل شي.
عمر داودزی له تیرو څو کلونو د ولسمشر کرزي د دفتر رییس دی او د جاوید لودین پر ځای په دغه دنده گومارل شوی و.
تر هغه وړاندې ښاغلی داودزی په تهران کې سفیر و.
جاوید لودین د ولسمشری د دفتر له ریاسته لومړی ناروې کې او ورپسې په کانادا کې سفیر وټاکل شو.
گنگوسې داسې دي چې ښایي ښاغلی داودزی په بریتانیا یا پاکستان کې د سفیر په توگه وټاکل شي.
خو له تاند سره په خبرو کې باخبرو سرچینو چې د نوم له ښوولو یې ډډه کوله په دې باب له

پاتې ٤ مخ

د ولسمشر کرزي ویاند وحید عمر استعفا وکړه

کابل، رسنۍ:
له یوې اوونۍ اوازې وروسته د ولسمشر کرزي ویاند وحید عمر د دوشنبې په ورځ تایید کړه چې کرزي ته یې د ولسمشرۍ له ویاندۍ څخه استعفا وړاندې کړې ده. کتونکي د ښاغلي عمر استعفا د کابل حکومت ته یو بل گوزار بولي.
ویل کېږي ، وحید عمر په تېرو نژدې لسو کلونو کې د ښاغلي کرزي تر ټولو خوله ور او خیرک ویاند دی.
وحید عمر، چې د ۲۰۱۰ کال له لومړیو څخه د ولسمشر د ویاندۍ دنده پیل کړې، د دوشنبې په ورځ په ارگ کې خبریالانو ته د خپلې استعفا د علت په باب وویل چې دا کار دده شخصي پرېکړه ده نه سیاسي.
ده هغه اوازې هم رد کړې چې پر اساس یې ویل شوي وو چې تر فشار لاندې دی چې له

پاتې ٤ مخ

مکثی بر تقرر مقامات عالیرتبه از طریق رقابت

صفحه دوم

پاکستان ته د امن جرگې د پلاوي سفر

دریم مخ

یواځې د افغانانو ملي وحدت د افغانستان د استحکام ضامن دی

دریم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

هغه قانون به څه گټه ولري چې عمل ورباندې نه کیږي؟

د جدي څوارلسمه د اساسي قانون د تصویب له کلیزې سره مصادفه ده نو ځکه دا ورځ د افغانانو لپاره یو خاص اهمیت لري او تجلیلوي یې.
له څه شک پرته د یو هېواد د وگړو لپاره اساسي قانون د ملا د تیر حیثیت لري، هغه ولسونه چې د خپل هېواد د اساسي قانون احترام کوي او د ژوند په ټولو چارو کې ورباندې عمل کوي بریالي او سرلوړی ژوند تیروي.
د افغانستان مسلمان ولس هم اساسي قانون لري، کیدای شي په دې کې ځینې کمی زیاتی هم وي خو په مجموعي ډول ددې وړتیا لري چې د هېوادوالو اړتیاوې پوره، او د قانون په چوکاټ کې د اولس حقوق تأمین کړي. له بده مرغه اساسي قانون صرف تر کتابونو محدود دی د عمل په ډگر کې هېڅوک یې احترام نه کوي، په دې خبره خو هر څوک ژاړي چې په قانون عمل نه کیږي مگر په عملي میدان کې بیا هر څوک د خپل وس په اندازه د قانون جنازه وباسي، او هغه څه کوي چې زړه یې غواړي او خپلې غوښتنې په خلکو په زوره تحمیلوي.
که موږ لږ غوندې ژور غور و کړو نو دې نتیجې ته رسیږو چې قانون د افغانستان غریبو او کمزورو وگړو نه، بلکې تل لپاره مقتدرې حاکمې طبقې مات کړیدی، او هغه اشخاص د قانون ښکې راوباسي چې عملاً د قدرت په گدۍ ناست دي.
له جمهور رئیس نه نیولې تر وزیرانو، رئیسانو، مدیرانو، قاضیانو، څارنوالانو، ولسوالانو، والیانو او نورو لوړ پوړیو او ټیټ پوړیو چارواکو پورې زیاتره د قانون په خلاف کار کوي. او بیچاره ولس له خپلو روا حقوقو نه محروموي.
په دې کې شک نشته چې په لاقانونیت کې اصلي تاوان غریب ولس ته رسیږي او دهغوی حقوق تر پښو لاندې کیږي، ولس کله هم نه غواړي چې قانون دې عملي نشي او دهغوی روا حقوق دې تر پښو لاندې شي.
بلکې د ولس غوښتنه داده چې قانون دې عملي شي او هر چاته دې خپل خپل حقوق ورکړی شي، دا چې حکومتي واکداران قانون پښو لاندې کوي ددې تر شا صرف او صرف دهغوی د ذاتي گټو جذبه او روحیه تر ستر گو کیږي هغوی له دې لارې غواړي چې ناروا مال او دولت تر لاسه او په دې تو گه خپلې گېډې د جهنم له اور نه ډکې کړي.
نه د وزیرانو په وړاندې وسله په لاس سړی ولاړ دی چې هغوی پر قانون له عمل کولو نه منع کړي نه هم د والیانو، ولسوالانو، قاضیانو، رئیسانو او مدیرانو په وړاندې.
په دې کار کې موږ نه بهرنیان ملامتولې شو او نه هم بل څوک چې گویا د قانون د نفاذ په وړاندې خنډونه اچوي.
که څه هم له دې حقیقت نه هېڅوک ستر گې نه شي پټولې چې په افغانستان کې بهرنیان په پوره بې شرمي د افغانستان د قانون په خلاف کارونه ترسره کوي خو دا کار هغوی پخپل زور کوي، ځکه چې هغوی پخپله خوښه افغانستان ته د چا له غوښتنې پرته راغلي دي همداسې د افغانستان د قانون د احترام پروا هم نه ساتي، او لدینه خپل ځانونه مستثنی او ماورا گڼي، پر هغوی هېچا زور نه رسیږي چې لدینه یې منع کړي خو پوښتنه داده چې آخر زموږ حکومتي واکداران چا د قانون ماتولو لپاره اړ ویستلي دي چې له بهرنیانو زیات قانون پښو لاندې کوي؟ !
له بده مرغه چارواکي د قانون د ماتولو داسې روږدي شوي یو چې لدې پرته یې خوب نه راځي، همدا وجه ده چې د تاریخ په اوږدو کې افغانانو چېرته ښه ورځ نه ده لیدلې او تل لپاره د لاقانونیت ښکار شوي دي د واقعي مسلمان لپاره د اسلام سپېڅلي دین تر ټولو غوره قانون او نظام دی، د اساسي قانون مادی هم تر ډېره حده د اسلام د سپېڅلي دین په رڼا کې جوړې شویدی، مطلب دا چې له دېنه سرغړونه کول د اسلام له دین نه سرغړونه ده او ددې کار پایلې د الله له قهر او ناکامي پرته بل څه نه دي.
که موږ واقعاً د خپل سپېڅلي دین قدر او قیمت په زړونو کې لرو او دهغه په احترام قانع یو نو بیا داسې کوم ممانعت دی چې موږ پر هغه له عمل کولو نه منع کوي؟ ! صحیح خبره داده چې زموږ ایمان او عقیده دومره کمزورې ده چې د خپلو ذاتي گټو په وړاندې پر قانون د ودرېدو څواک نه لرو او د الله تعالی پر ځای د خپل نفس بند گي کوو. که چېرته موږ د مضبوط ایمان او غښتلې عقیدې په وسله سنبال شوو او یواځې یو الله خپل اصلي مالک او واکدار و گڼو نو بیا به له قانون نه د سرغړونې سوال نه پاتې کیږي او هر څوک به د قانون په چوکاټ کې خپل مسؤولیت ترسره کوي، قوي ایمان او غښتلی عقیده یواځینې ښنتېزه ځیز دی چې له قانون نه د سرغړونې له گناه څخه مو بچ کولې شي.
که موږ واقعاً غواړو چې قانون خپل أصلي قوت او گټه ښکاره کړي نو لدې پرته بله لاره پرمخ نه لرو چې د عمل په ډگر کې پیاده کړو او ددې خبرې ښکاره ثبوت وړاندې کړو چې موږ خپل قانون له هر څه نه پورته او محترم گڼو، که نه نو ظلم او استبداد به د پخوا په څېر پخپل حالت کې پاتې وي او ولس به د لاقانونیت په اور کې سوځیږي، نه به امن تأمینیږي او نه به هم عدل او انصاف خپلې وزرې خوروي، د عزت له ژوند نه به محروم یو او تل لپاره به د ذلت او غلامي زنځیرونه په غاړه گرځوو، الله نه دې کړي.

مکثی بر تقرر مقامات عالیرتبه از طریق رقابت

اعزامی

چندی قبل وحید عمر سخنگوی ریاست جمهوری در کنفرانس مطبوعاتی هفتگی خود از انصراف صلاحیت رئیس جمهور در تقرر مقامات عالیرتبه خبر داد، آقایٔ وحید عمر این تصمیم را بنابر فیصلهٔ شورای وزیران و در نتیجهٔ موافقه رئیس جمهور وانمود کرد. براساس این فیصله مقامات عالیرتبه حکومت از معینیت های وزارتخانه ها گرفته تا والیان، قوماندانان امنیه به وسایر پست های عالیرتبه با استفاده از پروسهٔ اصلاحات اداری مقرر می شوند و منبعد هیچگونه سفارشات شخصی و سلیقوی در مورد تقرر مقامات عالیرتبه حکومت پذیرفته نمی شود و حتی صلاحیت وزرا و رئیس جمهور از صدور فرمان و دستور در تقرر آنها سلب گردیده است. به گفتهٔ سخنگوی رئیس جمهور، در صورت خالی شدن پست های عالیرتبه، تمام افراد واجد شرایط، درخواست های شان را به کمیسیون اصلاحات اداری ارائیه می کنند و از طریق برنامه رقابت، شخص ممتاز و دارای اهلیت به تناسب سایر داوطلبان نشاندهی شده، بعداً از طریق کمیسیون اصلاحات اداری به مقام ریاست جمهوری پیشنهاد می گردد و با صدور حکم رئیس جمهور، مقامات عالیرتبه در پست های مربوط مقرر می گردند.

گفته می شود که جناب رئیس جمهور این تصمیم را به منظور اصلاح ادارهٔ ملکی کشور اتخاذ کرده به قصد اینکه با استفاده از این روش در تقرر مقامات عالیرتبه، می توان از یک بخش فساد اداری در ادارات ملکی جلو گیری کرد. تصمیم به اصلاح اداره، در هر مرحله ای که اتخاذ شود، مفید است و تقرر مقامات عالیرتبه بوسیله رئیس جمهور و وزراء نباید میان اصلاح ادارهٔ عامه و مقرری های سیاسی فاصله ایجاد کند. سخنگوی رئیس جمهور اضافه کرد. جناب رئیس جمهور جهت اصلاح ادارهٔ عامه و شفافیت پروسهٔ استخدام مقامات عالی، از صلاحیت های قانونی خود منصرف شده و تعیین اشخاص را در پست های سیاسی به بورد مشورتی سپرده است، تا اداره خدمات ملکی کشور به سوی شفافیت و غیر سیاسی شدن برود.

تقرر مقامات عالیرتبه از طریق سیستم رقابت در پست های سیاسی و نیمه سیاسی چون معینیت، ولایت، قوماندانی امنیه و... بدون شک برداشتن گامی است در جهت شفافیت و اصلاح اداره عامه و کم شدن فشار های سیاسی بر رئیس جمهور مبنی بر استخدام افراد مورد نظر احزاب جناح ها و اقوام کشور در پست های متذکره؛ ولی این نکته قابل تأمل است: وقتیکه جناب رئیس جمهور صلاحیت قانونی اش را به رضایت خود به کمیسیون اصلاحات اداری تفویض می کند که مقامات عالیرتبه را از طریق پروسهٔ خود مقرر نمایند، آیا کمشنرها و اعضای کمیسیون متذکره این صلاحیت و اهلیت عالی را دارند تا صلاحیت و کفالت مقامات عالیرتبهٔ چون معین، والی، قوماندان امنیه و... را تشخیص داده و از جمع داوطلبان عالیشان، فرد ممتاز و واجد شرایط را تمیز نموده و به پست مورد نظر پیشنهاد نماید؟ آیا کمشنرهای کمیسیون اصلاحات اداری و پرسونل اجرایی آنها، خود شان از طریق پروسهٔ اصلاحات اداری و رقابت روی صحنه آمده اند، یا اینکه آنها خود براساس حکم رئیس جمهور به طور فوق العاده بحیث کمشنر مقرر شده اند؟

حقیقت امر اینست که رئیس و کمشنرهای کمیسیون اصلاحات اداری افرادی مانند سایر مقامات عالیرتبه بوده و بطور فوق العاده به حکم رئیس جمهور در پست خارج رتبه به حیث کمشنر مقرر شده اند، یا بعبارهٔ دیگر، کمشنرها مانند سایر مقامات عالی رتبه معززینی اند که به پیشنهاد رئیس کمیسیون و بدون طی مراحل پروسهٔ اصلاحات اداری (درخواستی، داوطلبی، رقابت، امتحان و...) مقرر شده اند. پس آیا ممکن است کسانی که خود شان بدون امتحان و رقابت به اساس حکم رئیس جمهور مقرر شده باشند، کفایت و لیاقت سایر مقامات عالیرتبه را از طریق امتحان و رقابت تشخیص بدهند؟

در گذشته معمول چنان بود که پروسهٔ اصلاحات اداری بر مامورین خدمات ملکی از بست دهم تا مافوق رتبهٔ تطبیق می گردید و تقرر مقامات عالیرتبه مربوط به ارگانهای ذیربط و فرمان رئیس جمهور می گردید، زیرا مقامات عالیرتبه پست های سیاسی و نیمه سیاسی می باشند که براساس مصالح سیاسی و به مشورهٔ بورد مشورتی خاص رئیس جمهور تشخیص و به فرمان رئیس جمهور مقرر می شدند. از قراین چنان پیدآست که احزاب و حلقات سیاسی، شوراهای قومی و مستفذین محلی بر رئیس جمهور فشار می اندازند تا افراد مورد نظر آنها در پست های عالی مقرر شوند. طبیعی است که فشارهای روز افزون، محدودیت پست ها و تاکید بر تقرر افراد غیر واجد شرایط، رئیس جمهور را گاهی در حرج می اندازد، چنانکه اگر وی به تأکیدات واقعی بگذارد، پروسهٔ اصلاح ادارهٔ عامه خدشه دارد می شود و اگر به اصولیت کفایت تأکید کند، موجب آزردگی سران احزاب و اقوام می گردد. لهذا او ترجیح داده است که بنابر فیصلهٔ شورای وزیران منبعد تقرر مقامات عالیرتبه نیز از طریق پروسهٔ اصلاحات اداری صورت بگیرد تا نه کسی آزرده شود و نه اصلی زیر پا گردد.

در صورتیکه این فیصله شورای وزیران جامعهٔ عمل بپوشد و رئیس جمهور به این روال استخدام تأکید داشته باشد، در آنصورت بهتر است که در قدم اول حکومت در ساختار اداری و تشکیلاتی کمیسیون اصلاحات اداری، تجدید نظر کلی نموده و پروسهٔ معمول اصلاحات را در استخدام مقامات عالیرتبه، قبل از همه بر رئیس، کمشنرها و پرسونل کمیسیون اصلاحات اداری تطبیق نماید، زیرا عدالت ایجاب می کند که وقتی کسی از دیگری امتحان میگیرد تا او را در یک پست عالی سیاسی مقرر نماید، شخص ممتحن خودش باید در مرتبه بالاتر از آن مقام قرار داشته باشد تا شخص امتحان دهنده از نگاه روحی قانع باشد که امتحان گیرنده توان، ظرفیت و اهلیت امتحان گرفتن را دارد. اگر این توان و اهلیت در ممتحن محسوس نباشد، طبیعی است که امتحان گیرنده در تشخیص خود برای گزینش داوطلبان به خطا می رود و یا براساس سلیقه های شخصی، گروهی و قومی تصمیم می گیرد و یا هم تحت تأثیر عاطفه و احساسات رفته و حق را بجایش قرار نمی دهد.

رو بهمرفته انصراف رئیس جمهور از صلاحیت مقرر کردن مقامات عالیرتبه و تفویض آن به کمیسیون اصلاحات اداری، اقدام نیکی در جهت اصلاح اداره عامه و ترویج اصل شایسته سالاری می باشد، مگر لازم است که به دو نکته درین رابطه عطف توجه شود نخست کمیسیون اصلاحات اداری با دریافت این صلاحیت ویژه می بایست با الگو ساختن اجراآت، ساختار و ظرفیت پرسونل خود در مرتبه بالاتر از مقامات عالیرتبه قرار بگیرد، سپس به تشخیص و استخدام مقامات عالیه اقدام نماید. ثانیاً کمیسیون اصلاحات اداری، علاوه از تشخیص افراد خوب، مسلکی، ماهر و لایق در پست های عالی از طریق امتحان، ایجاب می کند که صلاحیت تشخیص مصالح سیاسی و قومی کشور را نیز در استخدام مقامات عالیه دریابد. اگر واقعاً این صلاحیت به کمیسیون اصلاحات اداری سپرده شود، در حقیقت قسمتی از بار سنگین مقام ریاست جمهوری نیز به عهده کمیسیون گذشته شده است.

پاکستان ته د امن جرګې د پلاوي سفر

سید فضل مولی "لټون"

د خبري رسنیو له خبر سره سم نن سبا امکان لري چې د سولې د مشورتي جرګې لوړ رتبه پلاوی پاکستان ته سفر وکړي، که څه هم دغه سفر د پاکستان د لومړي وزیر یوسف رضا ګیلاني په بلنه ترسره کېږي، خو ددغه پلاوي یو لوړ رتبه غړي مولوي عطاء الله لودین "شمشاد تلویزیون ته وویل چې موږ به د پاکستان لومړي وزیر سربېره د پاکستاني حکومت له نورو لوړ رتبه مقاماتو سره هم کتنې ولرو او په سیمه کې د ټیکاو د راتګ په باب به له هغوی سره ژورې خبرې وکړو.

دا چې دا ژورې خبرې به څه ډول وي، خو په حقیقت کې دا د سولې د مشورتي جرګې د پلاوي یو پیغام دی، چې پاکستاني چارواکیو ته یې رسول غواړي، چې په سیمه کې امن او ټیکاو یواځې د افغانانو نه بلکې د پاکستان او د سیمې د ټولو هېوادونو مبرمه اړتیا ده، ولې دغه اړینه اړتیا په سطحي خبرو اترو او نمایشي ډیپلوماتیکو سفرونو نه ترلاسه کېږي بلکې ژورو بحثونو او په ترڅ کې یې د ګاونډیو هېوادونو په یو بل پورې تړلیو اقتصادي، نظامي او سیاسي ګټو خوندیتوب پورې اړه لري، دېته دې په خورا دقت، تدبر او سیاسي بصیرت پاملرنه وکړای شي او همدغه د یو بل ګټې باید د خبرو اساسي او بنسټیز محور وګرځول شي.

دا خبره اوس له هېچا هم پټه نه ده چې په دې سیمه کې روانه جګړه که څه هم د طالب ... او نورو نومونه ورکړل شوي دي، خو که د خبرو اترو محور دقیق او بنسټیز وي، په ډېره آسانۍ سره کېدای شي چې د طالب او نورو غوښتنې هم د یو بل د ګټو او د یو بل شتون د درناوي په بنسټ ترسره شي.

که په څرګنده یې ووایو طالبان او نور د څه لپاره جګړه کوي؟ که دغو پوښتنو ته لنډ ځواب ووایو، نو دا به وي چې هغوی له سیمه ییزو غوښتنو او شتون نه د انکار په صورت کې د ځان او بل وژنې ته چمتو شوي دي.

زموږ په اند دغه پلاوی باید د امن د خبرو د اغېزمنتیا لپاره دغه ستونزې او مشکلات په نظر کې ولري او خپلو ګاونډیو هېوادونو ته هم دا پیغام ورسوي، چې سیمه ییز امن او ټیکاو د سیمې د ټولو ګاونډیانو اړتیا ده، په دې ترڅ کې باید د افغانستان دولت او ګاونډي هېوادونه بهرنیو ځواکونو او د نړۍ هېوادونو ته هم پر دې خبره قناعت ورکړي، چې خپلې سیمه ییزې اقتصادي ګټې د جنګ په لمبو کې ونه سوزوي، جنګ کرکه او نفرتونه زېږوي، ملتونه د جنګ په دوران کې نه محوه کېږي بلکې لا راویښېږي او د آسانو لارو پر ځای سختیو او کړموځغملو ته تن ورکوي.

هو ! امن او سوله زموږ د ټولو په ګټه او جنګ د نړیوال امن لپاره خطره ده.

یواځې د افغانانو ملي وحدت د افغانستان د استحکام ضامن دی

محمد خلیل

پدې کې هېڅ شک نشته چې د یو هېواد استحکام دهغه د اوسېدونکو په لاسو کې دی، که چېرته د یو هېواد وګړي په مختلفو ډلو ټپلو وېشل شوي وي پخپلو کې یو نظر، یوه عقیده او یو دریځ ونه لري نو هېواد یې کله هم د استحکام پرمختګ او امن له نعمته نه شي برخمن کېدلې. د افغانستان اوسېدونکو اصلي او بنسټیزه ستونزه همداده چې تر نه پورې د یو ملي دریځ او ملي وحدت په لاسته راوړو پاتې راغلي دي، تراوسه پورې لږ تر لږه په دې نه دي توانېدلي چې په اساسي او عمده مسایلو کې یو ګډ دریځ اعلان کړي او په یوه خوله دهغه د دفاع لپاره ډګر ته راووځي. نه د اقتدار خاوندان په یوه خوله دي او نه هم بې اقتداره مخالف تنظیمونه، د ولس په وړاندې داسې یوه روښانه نقشه او کړنلاره نشته چې پر هغې روان شي او خپل پالیسي وړاندې مرتب کړي. د افغانستان موجوده او راتلونکې نقشه او کړنلاره داسې جړه او تته ده چې هېڅوک خپل ټګلاره پکې نشي مالومولې او نه هم په دې پوهېږي چې له چاسره دښمني وکړي او له چاسره دوستي؟

دښمن او دوست دواړه د خپلو ګټو او موخو د ترلاسه کولو لپاره په مختلفو بڼو فعالیت ترسره کوي، نو ځکه افغانانو تراوسه په یوه خوله نه خپل اصلي دښمن وپېژند او نه هم خپل رښتوني دوست. که څه خلک چاته ددښمن خطاب کوي نو ډېری خلک هغه ددوست په نامه پېژني، همداراز که ډېر خلک چاته دوست وایي برعکس ډېر وګړي هغه خپل دښمن ګڼي. ددښمن او دوست په تعریف کې افغانان پخپلو کې لاس او ګرېوان دي او پخپلو کې د یو بل مرۍ غوڅوي. د افغانانو اصلي ضرورت یعنې ملي یووالی او ملي دریځ له سره ورک دی، همدا لامل دی چې د افغانانو په خوله د خپلو ګټو د تأمین پرځای د نورو هېواد د ګټو د تأمین خبره کېږي، څوک د یو هېواد د ګټو د تأمین پلان وړاندې کوي او څوک د بل هېواد، په داسې حال کې چې افغانانو لپاره تر ټولو ستر ضرورت د خپلو ملي ګټو دی او دا ګټې تر هغه نه شي ترلاسه کېدلې تر څو چې افغانان پخپلو کې په ملي او بین المللي مسایلو کې په یوه دریځ نه وي متفق شوي.

موږ افغانان باید په دې واقعیت سترګې خلاصې کړو چې تر څو پورې پخپله افغانان د خپلو ګټو او پردیو ګټو په پېژندلو او تعریف کې یوه غږ نه شي او خپل اصلي دوست او دښمن ونه پېژني تر هغې د نورو هېوادو د روا ګټو په مشخص کولو کې نشي بریالي کېدلې او نه هم پردي هېوادونه په افغانستان کې پخپلو روا ګټو بسنه کوي بلکې هغوی کوښښ کوي چې زموږ له داخلي کمزوریو نه په ګټې اوچتولو سره د ناروا ګټو د ترلاسه کولو لپاره نور فعالیتونه هم په کار واچوي.

هغه ولس چې د خپلو ملي ګټو په پېژندلو او مشخص کولو کې پاتې راغلې وي هغه څنګه کولې شي چې د نورو هېوادو د ناروا ګټو مخه ونیسي او یا هم د برابرۍ په بنیاد ورسره دوستانه اړیکې ټینګې کړي؟

تاریخ په دې خبره ګواهي ورکوي چې تل لپاره ځواکمنو وګړو د کمزورو وګړو استحصال کړې او دهغوی په حقوقو یې پښې ایښې دي. که موږ هغوی ته څومره داړه ورکړو چې ستاسې د روا ګټو احترام کوو هغوی په دې قناعت نه کوي، ځکه چې دهغوی روا ګټې خو له لومړۍ ورځې نه خوندي دي.

که چېرته موږ افغانان غواړو چې نور هېوادونه له موږ سره د برابرۍ په بنیاد دوستانه اړیکې ټینګې کړي او د یو بل د ګټو د احترام اصول په نظر کې ونیسي نو ددې یواځینی لاره داده چې د افغانستان ټول ګوندونه او وګړي د ملي یووالی او استحکام لپاره پخپلو کې د ورورۍ لاسونه ورکړي، خپل ملي جوړښت هم مضبوط کړي او د هېواد د حریمونو دفاع او ساتنه هم په بشپړ یووالي ترسره کړي.

که الله مکړه موږ خپل دیني، ملي او افغاني مسؤولیت ترسره نه کړو، خپل ولس په یو منظم صف کې ونه دروو، یو دریځ او یو شعار خپل نه کړو نو ددې خبرې هېڅ امکان نشته چې د پردیو هېوادو د ناروا ګټو او ظالمانه تیریو مخه ونیسو او هغوی دېته پرې نږدو چې زموږ په سر نوښت لوبې وکړي.

موږ باید له تېر وخت نه عبرت واخلو او دې خبرې ته ځیر شوو چې تراوسه پورې کوم یو هېواد د خپلو ناروا ګټو د پاللو پر ځای له موږ سره د الله د رضا لپاره دوستي کړې دی؟ که هغوی واقعاً له موږ سره په اخلاص د دوستی لاسونه غځولي وای او زموږ له بېچارګي او کمزورۍ نه ناروا ګټه نه وای اوچته کړې نو موږ به له داسې حالت سره ولې مخامخ کېدلو؟ روس غوندې هېواد چې افغانانو ورسره مثالي دوستي درلوده او دهغه ټولې ګټې پکې خوندي وې ددوستی له دایرې نه پښې وویستلې او پر افغانستان یې یرغل وکړ؟ دا ځکه چې موږ کمزور او بې اتفاقه وو. دا زموږ خپل مسؤولیت دی چې د نورو هېوادو له هر ډول لاسوهنو او تیریو څخه د نجات په خاطر پخپلو کې د ورورۍ او یووالې لاسونه ورکړو، په ټولو ملي او بین المللي قضایاو کې یو دریځ اعلان کړو، له هغو ټولو اختلافاتو څخه کلکه ډډه وکړو چې زموږ د هېواد استقلال او ګټو ته تاوان رسوي.

که موږ واقعاً خپل دیني او ملي مسؤولیت ترسره کړ نو په یقیني ډول ددې خبرې وړاندوینه کولې شو چې په ډېر لږ وخت کې به ددې جوګه شو چې نور هېوادونه به موږ ته د برابرۍ په بنیاد د دوستي لاسونو د اوږدولو وړاندیزونه کوي. الحمدلله افغانستان په هر اړخیز ډول له ډېرو معنوي او مادي ارزښتونو څخه بډای او غني هېواد دی، په ډېر لږ وخت کې افغانان ددې جوګه کېدلې شي چې د نړۍ په سر د آرام او خوشحال ژوند خاوندان شي، نه به څوک د برلاسي خوبونه ویني او نه به هم د ناروا ګټو د ترلاسه کولو خیال کوي.

نویسنده: هدایت الله مشاهد معاون اتحادیه

پیام اتحادیهٔ جوانان حزب اسلامی افغانستان ولایت بدخشان

سخن از صمیم قلب و از سوز ایمان بزبان آورده ام که تنظیمی شدن و تنظیمی بودن از سر لوحه های کاری هر شخص مسلمان و دلیر است که اسلام را با تمام سلوک و قوانین آن در قلب و دل جای داده و کشت زار و مزرعهٔ قلب را از آب حیات اسلام آبیاری کرده است که ثمرهٔ آن به خویش و به دیگران رسیده است البته من از تنظیم و آن گروهی سخن میگویم که تهداب آن توسط رنگ لاجوردین اسلام گذاشته شده است که اسلام هم چنین چیز را فتوا میدهد که ما از آیات نجات بخش قرآن یافته ایم که سخن میگوید.

((وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُولَـٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)) اینکه باشد یک گروه از شما دعوت بکنند مردم را به نیکی و منع بکنند از زشتی پس این جماعه کامیابان اند.

اما تنظیم ساختن و تنظیم داشتن بدین مفهوم که همه ابعاد آنرا هدایات اسلامی احاطه کرده و اختلافات فروعی مانند قوم گرایی، نژاد گرایی، زبان گرایی و مذهب گرایی میان مذاهب اسلامی مظهری این روند نشده و درد سر به دیگران نشود و باید هم مثل باغبان باغپرور نهال مثمر و گلهای مطرز طوی این باغ غرس نمود حتی که بوی بد به مشام دیگران نرسد و همگان مانند عندلیبان آشفته بروی و بوی گل مطرب این باغستان باشند و هراس هم از صیاد ملوث به لباس فریب و مجهز با تجهیزات نداشته و شعارهای دل نشین اسلام را زمزمه نموده تا باشد که دل کور و کری انحرافان باز شده مانند عصر محمد صلی الله علیه وسلم جوقه جوقه گام بسوی ما برداشته یارو یاوری ما شوند و آنچه که از ارم گان غربی و یا شرقی شان به ارمغان آورده اند در تاق نسیان گذاشته حقیقت را از زبان ما که از بطن قرآن گرفته ایم بیاموزند و هواس شانرا از فاشست مآبی و نوع دولتداری غیر اسلامی تا ابد جمع دارند قابل یاد آوری است که برای وقایه این امراض و پیش برد کاروزار بطور درست آن بدوش جوانان بوده زیرا جوانان مؤید نظام ها و ستون فقرات در اجتماع میباشند و خوبتر میتوانند درد ملت را درمان بکنند و اشک غم را از رخسار مسلمین بردارند و بازوی همه چیز را داشته و مسؤولیت شان نسبت به دیگر اقشار انسانی افزون تر است و مورد توجه احکام الهی بیشتر اند که تا در مقابل تهاجمات مؤلم بالای کیش، نوامیس ملی و سرزمین مربوط به مؤمنین ایستاده گی نمایند. ... مبارزه نمودن در برابر عاملین و متجاوزین ضرورت می افتد که انسجام و اتفاق میان هم داشته باشند تا بتوانند در برابر دشمن پنجه نرم کرده دست ایشانرا از تعرض باز دارند پس اینجاست که وابسته بودن به جریانات سیاسی اسلامی از وجیبه های دینی هر فرد مسلمان بوده و از عینک اسلام هم جواز دارد. جای سخن است و باید هم قلمم را نظر به قضاوت وجدان از مرور به برگهای کتب تاریخ و مطالعه ملیت ها که به عین حق بینانهٔ شان مشاهده کرده اند بگوش هایم شنیده ام دستور بدهم بالای برگهای سفید در مدح حزب اسلامی افغانستان اشک بریزاند میدانم که من زادهٔ بدخشانم و حرف هایم مورد قبول همگان قرار میگیرد زیرا که تعدادی از سخن دانان که از درک شان لاف میزنند به این باور هستند که تنظیم حزب اسلامی افغانستان منحصر به پشتون هاست ولی اگر حقیقت را بیاندیشیم نه چنین است بلکه در ادوار تاریخ ثابت نموده است که مربوط به همه ملیت ها و نژادها بوده یعنی هیچ نوع تبعیض را بخود مسکن نداده است و ایجاد حکومت اسلامی و تطبیق قوانین سماوی رفاه همگانی از سرلوحه های کاری حزب اسلامی افغانستان است. همگان نسبت به من بیشتر میدانند که این تنظیم نقش بسزای را از آوان جهاد و مقاومت علیه اشغال گران قشون سرخ و مزدوران داخلی که بنام های این و آن دلق و زنجیر غلامی را پوشیده بودند بازی کرده است که بار بار ایشانرا روی تختهٔ شطرنج سیاست کشت و مات داده است که توجه ملیت ها را بخود جذب کرده است و بعد از روی صحنه آمدن حکومت انتقالی و تدریجاً انتخابی حزب اسلامی افغانستان به اصلیت خویش باقی مانده و در دام مکر و حیلهٔ اجنبیان چون قدرت، پول و سایر مادیات سقوط نکرده و نخواهد کرد و برای همیش انتقادات سالم و پیشنهادات شانرا طوری مسالمت آمیز در پرتو دین مقدس اسلام و در چارچوب دولت داری افغانها ارائه کرده است.

البته بخاطری همین ویژه گی ها بوده که این بار هم به سلسلهٔ افتخارات همیشگی این تنظیم و قطع نبودن پیوسته گی بدخشانی ها از این روند سیاسی اسلام تعداد کثیری از جوانان هدف مند که غرور شان از قله های مرتفع پامیر سرچشمه گرفته است از سالهای قبل بدین سو مربوط به تنظیم موصوف فعالیت میکنند.

سیاست ها و موضع گیری سالم و هدفمند اخیر حزب اسلامی افغانستان یکبار دیگر سیل عظیم از قشر جوانان را بطرف خود جلب نموده و باورهای جوانان را نسبت به این حزب محکم و با ثبات تر ساخته است. زنده باد حزب اسلامی افغانستان و مستمر باد موضع گیری های سالم و اسلامی آن.

الآن که من از زبان خویش و آنها سخن میگویم حرکتی را مسمی به اتحادیهٔ جوانان ولایت بدخشان مربوط به تنظیم حزب، اسلامی اعلام میدارم.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتیاز څښتن حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر عبدالله کامه وال

مرستیال مدیر عبدالخلیل (محمد خلیل)

دارتکي شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

ایمیل

shahadatnews_kabul@yahoo.com

دیزاین خواجه وحیدالله

د کمپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس د حزب اسلامي دفتر

سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

امریکایي قوماندان: د طالبانو په ...

ساروان کلا له سپین ږیرو او مشرانو سره موافقې ته رسېدلی چې د دوی په سیمه کې به اوربند کېږي او حکومت به هلته د بیارغونې کارونه پیلوي.

د امریکا د سمندري پلیو ځواکونو قوماندان وویل چې دا موافقه په سنګین ولسوالۍ کې د قومي مشرانو او د هلمند د والي ګلاب منګل ترمنځ د ایتلافي ځواکونو په مشوره شوې.

سنګین ولسوالي د افغانستان د تېرو نهو کلونو په شخړو کې تر ټولو سختې جګړې لیدلي دي.

د اسوشیتید پریس خبري اژانس د راپور له مخې داسې نه ښکاري چې له دې موافقې سره به په سنګین کې، چې د طالبانو د مشر ملاعمر لپاره د مرګ او ژوند اهمیت لري، تاوتریخوالی پای ته ورسېږي خو د دې ولسوالۍ په یوه مهمه برخه کې له سخت دریځو څخه د ځان خلاصولو لپاره د قومي مشرانو ژمنه او اراده مرسته کولی شي چې د جګړې د دوام وخت لنډ کړي.

په تېرو څلورو کلونو کې په سنګین ولسوالۍ کې تر سلو زیات بریتانوي پوځیان وژل شوي او د تېر کال (۲۰۱۰) له اکتوبره وروسته، چې دې ولسوالۍ ته د بریتانوي ځواکونو په ځای د امریکا سمندري پلي سرتېري استول شوي، تر لسو زیات امریکایي عسکر وژل شوي دي.

د قومي مشرانو له لوري له طالبانو سره له همکارۍ لاس اخیستل او په سیاسي پروسه کې د هغوی شاملېدل په افغانستان کې د بلواګرۍ پرضد د امریکا د ستراتیژۍ اساسي برخه ده.

جنرال میلز وویل د هلمند د والي او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ له موافقې سره سم طالبان به په سیمه کې د نړیوالو ځواکونو پرضد حملې نه کوي او بهرني طالبان به ایستل کېږي.

ده همداراز وویل :«موږ دې موافقې ته په احتیاط خوشبین یو او د دې به څارونکي یو چې ایا له دې موافقې سره د سخت دریځو نفوذ او د هغوی فعالیت کمېږي او کنه.»

دا موافقه له الکوزو سره شوې چې د برنې سنګین په ساروان کلا کې تر ټولو لوی قوم دی.د دې اوولس (۱۷) کیلومتر مربع سیمې د دېرشو کلیو اکثره خلک الکوزي دي.

دوی په ۲۰۰۷ ع کال کې هم د طالبانو پرضد پاڅون کړی وو خو نړیوالو ځواکونو ورسره مرسته ونه کړه او طالبانو سخت وځپل.

سنګین د طالبانو لپاره ډېره مهمه او ستراتیژیکه ولسوالي ده او په اسانه نه غواړي چې هغه له لاسه ورکړي.له دې ولسوالۍ څخه مخدر مواد او وسلې د هلمند نورو سیمو او همداراز کندهار ته وړل کېږي.

په هلمند کې د امریکا د سمندري پلیو ځواکونو قوماندان وایي چې طالبانو د سنګین ولسوالۍ پر قومي مشرانو ډېر فشار راوستی خو هغوی تراوسه پورې مقاومت کړی.

ملیز همداراز وویل چې د دوی ځواکونه به د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو ته پرمختګ ته دوام ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د قومي مشرانو او د هلمند د والي ترمنځ له موافقې سره سم به نړیوال ځواکونه حق نه لري چې په خپل سر د خلکو د کورونو تلاشي واخلي .د هلمند د والي د ویاند په وینا په موافقه کې ویل شوي چې یوازې به افغان ځواکونه اجازه لري چې تلاشي وکړي .

د سیمې اوسېدونکي په داسې حال کې ښوونځي، کلینکونه ، سړکونه او پلچکونه غواړي چې تګ راتګ او ازاد ژوند ته یې وېره نه وي.

د هلمند د والي ویاند داوود احمدي وایي چې دا په هلمند ولایت کې لومړی ځل دی چې دا ډول اوربند کېږي.

ده د ځینو رسنیو هغه راپورونه رد کړل چې د ساروان کلا اوربند یې د موسي کلا ولسوالۍ له موافقې سره ورته بللی وو.

په موسي کلا کې درې کاله پخوا له یوه سیمه ییز طالب قوماندان سره د دولت د موافقې له مخې حکومتي ځواکونه له دې ولسوالۍ ووتل خو احمدي ټینګار کوي چې ساروان کلا ته به دولتي ګزمې تلی راتلای شي.

د هلمند د والي ویاند داوود احمدي وایي چې په ساروان کلا کې دا شرط نه دی ایښودل شوی چې له دې سیمې به حکومتي ځواک او اداره وځي بلکې د امنیتي ځواکونو ګزمې به سیمې ته تګ راتګ کوي او د ساروان کلا د خلکو له غوښتنې سره سم به په دې سیمه کې د بیارغونې چارې پیلېږي.

واکنش کابل به پیشنهاد ایجاد...

پاکستان را عوض خواهد کرد.

اما وحید عمر سخنګوی ریاست جمهوری افغانستان در واکنش به این اظهارات گفته است، بحث ایجاد پایګاه دائمی امریکا در افغانستان بصورت رسمی بین مقامهای دو کشور مطرح نشده است.

سخنګوی ریاست جمهوری همچنین تاکید کرد که افغانستان به حمایت دائمی امریکا نیاز دارد.

روز ګذشته وزارت دفاع افغانستان اعلام کرد که حمایت مالی امریکا از ارتش افغانستان در سال آینده، تا دوبرابر افزایش خواهد یافت.

بحث ایجاد پایګاه نظامی امریکا در افغانستان درحالی مطرح می شود که این کشور تلاش دارد بر اساس استراتژی اوباما، در نیمه دوم سال ۲۰۱۱ خروج نیروهایش را از افغانستان آغاز کند.

بریتانیا نیز اعلام کرده است که بعد از سال ۲۰۱۵ دیګر نیرویی در افغانستان نخواهد داشت.

براساس توافقنامه ای که در لیسبون بین حامد کرزی و راسموسن دبیر کل ناتو به امضا رسید، نیروهای ناتو در انتهای سال ۲۰۱۴ میلادی مسئولیت تامین امنیت در سراسر افغانستان را به طور کامل به دولت این کشور واګذار خواهند کرد.

از نخستین روزهای بعد از امضای این توافق، این سوال که بعد از ۲۰۱۴ چه خواهد شد، بصورت جدی در میان حلقات سیاسی افغانستان مطرح بوده است که بازتاب آن را در رسانه های داخلی این کشور به وضوح می توان دید.

فعلا جواب روشنی برای این سوال وجود ندارد، اما ظاهرا هم امریکا و هم افغانستان، بر لزوم تقویت نیروهای ارتش افغانستان تا حدی که قادر باشند به تنهایی امنیت این کشور را تامین کنند، تاکید دارند.

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

نړیوالو چاپي خپرونو ډیلي ټیلګراف په خپله وروستۍ ګڼه کې د افغانستان په اړه ځینې مقالې او خپرونې چاپ کړې دي، چې د شهادت درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي.

ډیلي ټیلګراف:

له پخوانیو کړکیچونو سره یو نوی کال د هغې مقالې عنوان دی چې د ډیلي ټیلي ګراف ورځپاڼې له خوا د نوي میلادي کال په مناسبت خپره شوې ده، ورځپاڼه لیکي چې د تېر کال ټول کړکیچونه سږ کال ته هم پاتې شول.

ډیلي ټیلي ګراف د کوریا په ټاپو وزمه کې د وروستیو کړکیچونو او د اسیا هېوادونو ته د چین د اقتصادي ګواښ له بیان وروسته لیکي، چې په عین حال کې د امریکا جمهور رییس باراک اوباما ژمنه کړې چې د سږ کال په جولای میاشت کې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو ستنول پیلوي.

خو که چېرې د محلي امکاناتو ورو پر مختګ او د پاکستان له پولو د وسله والو مخالفینو تګ راتګ ته وکتل شي امکان لري چې د دغې ژمنې ترسره کول د پوځیانو له مشورو سره اړخ ونه لګوي.

ورځپاڼه لیکي: وروسته له دې چې ناټو د سږ کال له جولایې میاشتې وروسته په افغانستان کې خپل پوځي ماموریت درې نیم کاله نور هم تمدید کړ، داسې نه ښکاري چې دغه پوځي ترون به له افغانستانه خپل ډېر عسکر ستانه کړي.

ډیلي ټیلي ګراف په یوې بلې مقالې کې لیکي که چېرې موږ په افغانستان کې چټک اقدامات ونه کړو نو ټول هغه څه لپاره بې جنګېږو له لاسه ورکړو.

ورځپاڼه وړاندې لیکي: له کلونو راهیسې په حربي پوهنتونونو کې د ناټو پوځیانو ته ویل کېږي چې جنګ پرته له دې چې له بلې لارې د سیاست تعقیبول وي بل څه نه دي.

خو دغه مفهوم په افغانستان کې د یاغیانو ضد نن ورځنۍ جګړې سره سخت مطابقت لري، پوځیان له پیله په دې باور وو او دي چې نهایي حل په سیاسي او اقتصادي ډګرونو کې دی.

د پوځیانو دنده دا وه او ده چې نورو ته لاره اواره کړي چې د کافي ثبات او امنیت لرونکي یو افغانستان جوړ کړي.

ډیلي ټیلي ګراف وروسته دا پوښتنه مطرح کوي چې اوس چې موږ د افغانستان د جنګ لسم کال ته داخلېږو د اوضاع د توازن نقشه څه ډول یو تصویر وړاندې کوي ؟

ورځپاڼه په ځواب کې لیکي چې د افغانستان وضعیت ته لومړنی کتنه چېرته ۳۵۰ بریتانوي عسکر او تېر کال د ناټو ۷۰۰ عسکر وژل شوي یو شوم اوله غمه ډک تصویر وړاندې کوي،خو په هر حال د دغه تصویر لاندې هیلې بخښوونکې نښې نښانې هم لیدل کېږي.

ډیلي ټیلي ګراف لیکي: سره له دې چې په افغانستان کې د ثبات او امنیت ټینګښت په اصل کې یو سیاسي هدف دی، پوځي هلې ځلې د دغه هدف د ترسره کولو لاره اواروي او پرمختګ هم په پوځي برخه کې شوی دی.

ورځپاڼه لیکي: هغه عملیاتي کړن لاره چې په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو پخوانی قوماندان جنرال سټانلي مک کریستال ایښې او هغه د سیمو له تصفیې وروسته امنیت ټینګول او خلکو ته د ښه ژوند د شرایطو برابرول دي، دا اوس اوس نتیجه ورکوي .

ډیلي ټیلي ګراف لیکي چې جنګ د عملیاتي هنر او علمي واقعیت یو ترکیب دی، د علمي واقعیت یوه برخه داده چې د یاغیانو خلاف جنګ هغه مهال بریالي کېدای شي چې د عسکرو او د هغو خلکو د شمېر ترمنځ یو توازن رامنځ ته شي چې له بد امنیو سره مخامخ وي.

ورځپاڼه د دغه مطلب په وضاحت کې لیکي چې څلور کاله پخوا ۳۵۰۰ بریتانوي عسکر په هلمند کې له سخت مقاومت سره مخامخ وو او درانه تلفات یې هم ګالل خو همدغو قواوو دوه کاله وروسته دومره کافي تجربه ترلاسه کړه چې یاغیان له سیمو لېرې کړي خو دعسکرو د کموالي له امله یې دغه سیمې نه شوای ساتلی.

خو وروسته له دې چې نورعسکر واستول شول او په افغانستان کې د بریتانوي سرتېرو شمېر ۱۰۵۰۰ تنو ته ورسېده او امریکا هم دیرش زره نور عسکر افغانستان ته ولېږل او د افغانستان د امنیتي ځواکونو شمېر او امکانات هم زیات شول نو اوس افغان او بهرني ځواکونه کولای شي سیمې تصفیه او امنیت کړي.

آیساف سال ۲۰۱۰ را خونین‌ترین ...

این افزایش ۳۰ هزار سرباز ګفت، با این قوا توانستند در مناطق مختلف به شبکهء طالبان مشکلات و دشواری ها را به میان آورند که طی سال های قبل این ګروه با آن مواجه نشده بود. وی ګفت، این اقدام سطح خشونت را افزایش داد و انتظار آن را نیز داشتند.

اما بلاتز ګفت، در کل این یک ګام و یک مرحلهء استراتیژی بود.

به ګفتهء وی، پیش از این که وضعیت خوب شود، متاسفانه بدتر می شد و چیزی بود که به ګفته وی در اواخر سال ۲۰۱۰ شاهد آن بودیم.

در سال ۲۰۱۰، ۷۱۱ سرباز خارجی در افغانستان کشته شدند. در حالی که سال پیش از آن ۵۱۲ و در سال ۲۰۰۸، ۲۹۵ سرباز قوای متحدین در افغانستان کشته شده بودند.

جنرال بلاتر ګفت، قوای بین المللی در زمستان سرد نیز به جنګ علیه طالبان ادامه خواهد داد و فشار را بر طالبان در همه جا وارد خواهند کرد.

په ۲۰۱۰ کې تر لس زره زیات...

وویل چې په ۲۰۱۰ کال کې د ملکیانو مړګ ژوبلې په تېرو نهو کلونو کې بې ساري وې.

ده وویل چې د کورنیو چارو وزارت د مالوماتو له مخې د ۲۰۱۰ کال په لومړیو اتو میاشتو کې ۲۳۱۲ تنه ملکیان د وسله والو طالبانو له لوري وژل شوي.د ده په وینا دا شمېرد ورتېر (۲۰۰۹) کال د ورته مودې په پرتله په سلو کې شل زیات وو.

تراوسه پورې ملګرو ملتو د ټول ۲۰۱۰ کال د تلفاتو په باب خپل راپور نه دی خپور کړی.

ښاغلي بشري وویل چې په ۲۰۱۰ کال کې له وسله والو طالبانو سره په جګړه او په چاودنو کې ۱۲۹۲ افغان پولیس وژل شوي دي.

ده په عین حال کې وویل چې په ۲۰۱۰ کال کې ۵۲۲۵ تنه وسله وال مخالفان هم وژل شوي دي.

د ولسمشر کرزي ویاند وحید...

دندې څنډې ته شي.

وحید عمر په دې باب چې ایا ولسمشر کرزي د ده استعفا منلې او کنه؟ وویل: "ولسمشر په اصولو کې منلې خو اداري پروسه یې لا نه ده بشپړه شوې."

د وحید عمر د استعفا اوازه له تېرې اوونۍ راهیسې په کابل او همداراز په ارګ کې د کرزي د مخالفو بانفوذو کړیو له لوري خپره شوې وه .

وحید عمر په کابل کې زېږېدلی، لیسانس یې د نړیوالو مطالعاتو په څانګه کې د واشنګټن له انټرنشنل پوهنتون څخه ترلاسه کړې او ماسټري یې له جګړې وروسته ټولنو د بیارغونې او انکشاف په برخه کې د بریتانیا له یارک پوهنتون څخه اخیستې ده.

ده د ماسټرۍ تېزیس یا تحقیقي رساله په جنوبي افریقا کې د اپارتاید د دورې د جنایتکارانو د مشروطې عفوې د پروګرام او په افغانستان کې دې ته د ورته پروګرام د تطبیق د څرنګوالي په برخه کې لیکلې ده.

محمد عمر داودزي او ډاکټر ...

څه ویلو ډېره وکړه چې په رښتیا به هم ښاغلی داودزي سفیر شي که نه .

د ډاکټر سپنتا په باب هم ویل کېږي چې د ملي امنیت په اداره کې خوښ نه دی .

داسې اټکلونه و چې ښایي سپنتا په واشنګټن کې د افغانستان د سفیر په توګه وټاکل شي خو د باخبرو سرچینو په وینا دغه دنده د ښاغلي سپنتا په زړه سمه نه ده .

د ښاغلیو سپنتا او داودزي د لیرې کېدا خبرې په داسې وخت کې رابرسېره کېږي چې د ولسمشر کرزي ویاند وحید عمر خپله استعفا وړاندې کړه .

د سیاسي چارو شننونکي وایي ولسمشر کرزي په خپل دفتر کې د بدلولونونو په راوستلو ښایي غواړي چې لویدیځوالو ته نوې هیله پیدا کړي .

د ښاغلي داودزي د ځای ناستې په باب ګنګوسې دا دي چې شاید جاوید لودین بېرته ورستون شي.

جاوید لودین په خپل کار کې بریالی بلل کېده . ویل کېدل چې لویدیځوال یې هم له کاره خوښ و .

د شننونکو په وینا عمر داودزي له ایران څخه د پیسو د بنډلونو د اخیستو په برخه کې لوی ګوزار وخوړ .

شننونکي دا هم وایي چې که څه هم دغه بدلونونه به مهم وبلل شي خو د ولسمشر کرزي پخوانیو چارو ته په کتو دا هم له امکانه خالي نه ده چې دغه تغیرات بې له کوم شالید ، ګټې یا اهمیت ته په پام سره ترسره شي .

اوس امریکا د نوېو استخباراتي...

چې نهه ویډیویي کامرې د بې پیلوټه الوتکې په مخکینۍ برخه کې نصب شوې چې تر۶۵ پورې ژوندي تصاویر لاندې ځمکې ته سرتیرو یا پوځي متخصصینو ته لیږدولی شي، چې د دښمن د تحرکاتو پل تعقیب کړي.

د دغو نوېو بې پیلوټه الوتکو اوهغو نورو ترمنځ چې تر اوسه پورې ترې په افغانستان کې کار اخیستل کېده، توپیر په دې کې دی چې په اوسنیو الوتکو کې یوازې یوه کامره نصب ده چې د یوې ودانۍ یا دوو ودانیو په اندازه له یوې کوچینې ساحې څخه د تصویرونو د لیږدولو ظرفیت لري.

خو جنرال جمز پوس چې د امریکا د هوایي ځواکونو د درستیزوالۍ د اکتشافي، استخباراتي او څارونکې برخې مرستیال دی، وایي ګورګن سټاریو داسې سیستم دی چې کولای شي په ټول ښار څارنه وکړي، موږ به هرڅه له نژدې څارو، خو دښمن به هم هیڅکله په دې پوه نه شي چې موږ د څه شي په لټه کې یو.